# Gendered Roles in Folk Games of South Pukhtunkhwa: Structural Analysis of Traditional Pakhtun Society

## د سهيلي پښتونخوا د اولسي لوبو صنفي څېړنه: د روايتي پښتني ټولنې ساختياتي مطالعه

Rahima Kakar[1] Dr. Barakat Shah Kakar[2]

## Abstract

The contemporary discourse on feminist scholarship encompasses wide spectrum of themes and disciplines. How gender roles are discursively structured, portrayed and manifested is a question that has been asked after the emergence of post-colonial gender and women studies. When it comes to traditional societies, segregation of men and women takes several shifts. In traditional societies, the absence of women from the public spaces, lack of access and control over resources are most of the time overshadowed. Women exclusion is one of the core determinants of patriarchal societies. In Pashtun traditional society of the subject areas, women condition and positions are conditional to the socio-economic backgrounds and rural-urban set ups. This paper strives to probe into the roles and games of the traditional society's ranges from pastoralists, rural-agrarian and towns emerged after the second half of 20th century under the influence of cash crops and free market economy. There is a certain degree of exclusion of men or boys to perform, act, wear, and play certain dances, chants, role plays, dress, and sports which are considered natural and fit for women and men. The authors have strived to unpack the arena of folk games, its history, and evolution and then have focused on how masculinity and femininity are shaped in the real life situations of folk games played by girls and boys (Young and adolescents).

---

[1] M.Phil Scholar/Lecturer Pashto Government Inter College Killa-Abdullah
[2] Assistant Professor, Department of Pashto University of Balochistan Quetta

**Key Words:** Pashtunwali, Oral Tradition, Folk Games, Patriarchy, Public Spaces

پښتني ټولني په عمومي توګه د اولسي روايت سره تړلي دي کوم چي د يوه مخصوص کلتوري عمل په نتيجه کښې د اولس د اجتماعي حافظې او تخليقاتو شکارندوی دی. لکه څه ډول چي فوکلور د يوه کلتوري هينداره ګڼل کيږي، هم دغۀ ډول په فوکلور يا د کلتور په غير مادي برخه کښې لوبې، لبې يا بازئ داسي کلتوري پانګه ده چي د ټولني بشپړۀ عکس پکښې ليدل کيږي. کله چي د لوبو يا بازيو د کردارونو، اصولونو، قواعدو او تحديداتو څېړنه وشي نو موږ ليدلی شو چي دټولني د نور ژوند ژواک، اقدارو، رسمونو، رواجونو، آدابو، اساطيرو او فوکلوري ادب د څېړني څخه د نارينه او ښځينه بيلتون، تنازعه او تضاد په نظر راځي، هم دۀ ډول د لوبو په ميدان کښې هم موږ د ټولني د دې اجتماعي روئې عکاسي له ورايه ليدلی او محسوسولی شو. په دې ليکنه کښې هم دغه ستونزه څېړل شوې ده چي قبائلي او روائتي ټولنه د لوبو په ميدان کښې د خپل صنفي تضاد اظهار څه ډول کوي.

## کلتور او فوکلور:

په دې ليکنه کښې به "کلتور" او"روايت" ټکي په وار وار زموږ و مخته راځي ځکه بې ځايه به نۀ وي که موږ د کلتور او روايت تر مينځ يو لنډ غوندي توپير و څېړو. د کلچر يا کلتور د ټکي د تاريخ څخه موږ ته دا اندازه کيږې چئ دغۀ ټکي په بنيادي توګه د لاطيني ټکي (Cultivation) څخه ماخوذ دی، په عمومي توګه کلچر او ايګريکلچر بيخي سره ورته دي، چي في الذمانه يو د کرهڼې او پالنې په معناوو کښې اخيستل کيږي او بل د ژوند دود په معنا کارول کيږي. په لومړې ځل دغه ټکے په ۴۵ ميلادي کال کي دروم فلاسفر "سيسرو"په خپل اثر(Tikslian Disputation) کښې دفلسفيانه فکر او روحاني ودې او روزنې له پاره کارولے دے . ورروسته بيا دغه ټکے و انګرېزي ژبې او ادب ته د نولسمې پېړی په شاوخوا کښې ننوتے دے دې او بيا د يورپ د بيدارے په وخت کښې دغه تورے بدل شوے دے . قاموس (Online Merriam Webster) په دې حقله ليکي:

"The customary beliefs, social forms, and material traits of a racial, religious, or social groups also: the characteristic features of everyday existence (as diversions or a way of life) shared by people in a place or time"(1).

ژباړه: کلتور د یوې نسلي، مذهبي یا ټولنیزې ډلې و رسمي عقیدو، ټولنیز ډولونو او مادي مېلاناتو ته وئیل کېږي ، په بله معنا د یوې سیمې د خلقو په یوه خاص وخت کښې د ژوند لارو چارو ته هم کلتور وئیلی شو.

د علم اشتقاق (Epistimology) د آن لاین قاموس له حوالې د کلتور تعریف داسې را خیستل شوې دې .

“Culture is derived from Latin and literally means for cultivation”(2).

ژباړه: ”کلتور“د لاطیني ژبې ټکے دے چې معنایَ”کرّهنه، کښت اوکروندہ کول دی”.

د علمي څېړنو له مخې هم دغۀ ټکي په ځانګړي توګه ارتقا کړې ده، بشر پوه ایډورډ بي ټېلر(Edward B. Tailar) په کال ۱۸۷۱ء میلادي کال کښې په خپل اثر (Ancient Culture) د کلتور په حقله لیکي:

"By culture we mean all those historically created designs for living, explicit and implicit, rational, irrational, and non-rational, which exist at any given time as potential guides for the behavior of men"(3).

”کلتور دپوې ټولنې دعلومو، اعتقاداتو،یرو، قوانینو، دود دستور، آرټ او اخلاقي قدرونو نوم دی. له کلتور څخه زموږ مراد دژوند تېرولو هغه بشپړه ډیزاین دي چې دتاریخي عمل له لارې د خلقو خوښي نا خوښي، عقلي او غیر عقلي رویې جوړوي“.

**د کلتور څېړنې په بحث کښې البته دا خبره جوته ده چې کلتور انسانان د خپلو ضرورتونو مطابق تخلیقوي، او په دې ضرورتونو کښې د هغوی معاشي رشتې، معاشي اوزار او معاشي زرائع بنیادي رول لوبوي، البته د کلتور غیر مادي، او روحاني اړخ هم پر خپل ځای جوت مقام لري.** ډاکټرجمیل جالبي په خپل کتاب "پاکستاني کلچر" کښې لیکي:

”کلچر اس کل کا نام ہے جس میں مذہب و عقاید، علوم و اخلاقیات، معالات اورمعاشرت، فنون و ہنر، رسم، رواج، افعال ارادی، قوانین، کھیل کھود اور تمام تر عادات و اطوار جو ایک شخص معاشرے کے ایک فرد کے طور پر سر انجام دیتا ہے“(4)

(ژباړه):”کلتور د هغه کل نوم دی، چې په دا کښې مذهب، عقېدې علوم او اخلاقیات، معاملات او معاشرت، فنون و هنر، دود و بائده، افعال ارادي، قوانین، د ساعت تېرولو او لوبو طرزونه او هغه ټول عادتونه له دا سره تړون لري چې یو انسان ئې د یوې ټولني په حېث سره سرته رسوي".

**کلتور په عمومي توګه په دوو برخو کښې وېشل کيږي، يو مادي او بل غير مادي. و غير مادي کلتور ته په عمومي توګه فوکلور وئيل کيږي، د انګريزي قاموس ميريم ويبسټر فوکلور څه داسي را پېژني:**

"Traditional customs, tales, sayings, dances, or art forms preserved among a people". (5)

ژباړۀ: "روايتي دودونه ، قيصې، متلونه، اتڼونه او نڅاوي، يا د آرټ بيلا بيل ډولونه چي په اولس کښې خوندي دي".

د علم اشتقاق د آن لائن قاموس له رويه فوکلور د دوو ټکو څخه جوړ يو مرکب ټکے دی، "فوک" معنا ځائي خلګ او " لور" زدکړي په معنا کښې را خيستل شوے دے.(6)

دغۀ ټکے په لومړي ځل يوه انګريز ليکوال ويليم تهامس په کال 1846 کښې د "لرغونو اسنادو" د متبادل ټکي په ډول کارولئ دے او دهغۀ وروسته هم دغۀ ټکے تر دې دمه کارول کيږي. ځېني خلګ د "لور" لپاره د جرمني او فرانسيسي ژبې مادي هم لټوي چي په ترتيب سره د ميني او قيصي معنا ورکوي. في الذمانه د فوکلور لپاره په نړۍ کښې (يونيسکو له لوري) د غير مادي کلتور ته (Intangible Cultural Heritage) اصطلاح کارول کيږي.

د دې خبري د رالنډولو لپاره موږ وئيلی شو چي اولس چي د خپلي اجتماعي کلتوري تجربې څخه کوم آرټ، ميوزيک، شاعري، قيصې، کيسی، اسطورې، کرکي کږنې، لوبې، متلونه، تاريخ، د ژوند ژواک کولو طور طريقې ، مهارتونه، او علم تخليق کړي هغۀ ته موږ د کلتور د غير مادي برخي يا فوکلور نوم ورکولے شو. چونکه ذياتره کلتورونه په کليوالو او زرعي سيمو کښې وجود مومي، او کلتورونو پر شفاهي يا زباني روايت باندي خپله اډانه قائمه وي، ځکه نو په يوه شفاهي ټولنه کښې ذياتره خلګ د هغۀ کلتور سره اشنا او خوانده وي، او هغوی د خپل کلتور او تاريخ يوه لويه برخه په خپلو زړونو او دماغونو کښې خوندي ساتي او خپل راتلونکي نسل ته يې انتقالوي. په اوسنيو کښې چي کله د شفاهي روايت او لرغونو کلتورونو د مخ پر ختميدو او ورکيدو خطر راپيدا شوے دے ، د د ملګرو ملتونو د تعليم او کلتور ځانګړې اداره يونيسکو د دې تاريخي ورثې د خوندي کولو او ژغورلو لپاره ميدان ته راوتې ده،

## د سهيلي پښتونخوا کلتوري حوضې :

**د مځکني موقعيت، موسمياتي لاملونه،سياسي انتظام، معاشي او ټولنيزو رغښتونو پر بنسټ موږ د پښتون افغان وطن سيمي په بېلا بيلو**

**کلتوري ساحو کښې وېشلئ شو. سهيلي پښتونخوا په تاريخي توګه د افغانستان يوه برخه پاتې شوې ده کوم چي د انګريزي استعمار د استحصالي پاليسيانو او تګلارو په نتيجه کښې د افغانستان څخه را جلا کړل شو**ه. دغۀ سيمه چونکه د برتانوي هند له افغانستانه را جلا کړې وه، او دا به ډېر فطري ؤ چي و دې ته برټش افغانستان وئيل شوي وو، خو داسي ونه شو او دا سيمه د برټش بلوچستان په نامه و نومول شوه، اولف کېرو دې ته غلط العام (Misnomer)تکے وائي. (7). داوسني صوبائي انتظام له رويه سهېلي پښتونخوا د بلوچستان د شمال و لورتې دوولس ضلعې دي.په صوبه کښې پښتون –بلوڅ دوه مهم قومونه دي چي د انګريزي استعمار څخه يې د خلاصون لپاره ګډه مبارزه کړې ده، البته د صوبې د تشکېل وروسته د دغو دوو ورونو قومونو تر مينځ تعلقات ترينګلي پاتي شوي دي. (8)

## د پلټني طريقه کار او څېړنيز چوکاټ:

په دې پلټنه کښې د سوهيلي پښتونخوا د بېلابيلو سيمو و لوبو ته کتل شوي دي، په دغو لوبو کښې چي پکښې له کوره د باندې ، په کور کښې دننه، په خونه کښې دننه، د هلکوانو لپاره مختص لوبي، د انجونو ځانګړې لوبي، او مخلوطي يا ګډې لوبي هم د نمونې په ډول راخيستل شوي دي، د (Purposive Random Sample) د تکنيک په مرسته يې نمونه اخيستل شوې ده. د څېړنې لپاره د ډسکورس (بحث) د تنقيدي څېړنې چوکاټ کارول شوے دے کوم چي د صنف (نارينه ښځېنه)، نظرياتو او شناخت په په يوه متن (ليکلي يا وئيلي) کښې هغه اړخونه را سپړي چي د مخصوصو سياسي، ټولنيزو او کلتوري رغښتونه په تسلسل کښې يې وجود موندلی وي.(9)

لوبې، بازی يا لبه: عمومي کتنه:

**لوبي چي ځيني پښتانۀ لوبې، بازی ځيني بيا ورته لبه او د خيبر پښتونخوا په سيمو کښې ځيني خلګ بيا "بدله" هم ورته وائي، خو په پښتني اکثرو سيمو کښې د بازی يا لوبي په نامۀ شهرت لري څرګنده دي وي چي لوبي يو اوږد تاريخ لري او چي څومره پښتون ملت يو لرغونی تاريخ لري دا ډول لوبي له پخوانيو زمانو څخه د پښتنو په بېلابيلو سيمو کښې ځانته يو حېثيت او رواج لري بازی يا لوبي ډېر ډولونه دي او داسي وختونه د ځينو بازيو هغې جلا وي او د ځينو هغې جلا وي له دې سره سره بازی ځيني بازی ځوانان، پيغلې کوي او ځيني بيا هلکوان ا انجونه کوي.د شاه وزير خان خاکي په کتاب "په سوات کښې د ماشومانو زړې لوبې" کښې محمد علي دينا خېل چي خپله سريزه ليکلې ده په هغه کښې د لوبي تعريف په داسي توګه کوي:**

"لوبې یو داسي حالت ته وائي چې په هغې کښې دوه یا د دوؤ نه زیات لوبغاړي برخه اخلي. او په دې کښې هر یو لوبغاړي لږ تر لږه د دوؤ رویو پر منځ کښې د انتخاب موقع په لاس ورځي. او لوبغاړے په دې موقعو کښې د لوئي موقع د تر لاسه کولو په کوشش کښې وي." (10)

لوبي د یوې ټولني عمومي برخه ده چي د ټولني د غړو روغتیائي حالت ښه کوي او یوه روغه او سالمه ټولنه رامنځته کوي په سالمه ټولنه کښي بدن او دماغ ته وده ورکوي له بدني او دماغي یا فکري ودي پرته یوه ټولنه پرمختګ نۀ شي کولاى. لوبي زموږ په پښتني کلتوري ساحو کښې خورا لرغونى تاریخ لري لکه د نورو لرغونو ارزښتونو او معیارونو په څیر لوبي هم زموږ د لرغوني کلتور د یوې ستري پانګي په صفت راپاته دي. په دې لوبو کښي داسي بازى هم وې چي نۀ یوازي د وخت د تېرېدلو او تفریح لپاره ورڅخه کار اخیستل کېږي،ځیني داسي لوبي هم وي چي بشپړۀ معاشي، ټولنیز رول لري، او داسي هم چي خصوصا پکښي د ځوانانو عسکري تربیت کیږي. له نیکه مرغۀ ډیري لوبي لا تر اوسه دخواره وارۀ هیواد په بېلابېلو سیمو خصوصا کلیو او بانډو کښي دود لري. د بیلګي په توګه د دې پلټني لپاره چي موږ کومي سیمي کتلي او ډاکومنټ کړي دي په هغۀ کښې د قلعه عبدالله او ږوب ډویږن ډیره ذیاته شته مني لري او ډیري لوبي اوس لا هم د ژوند کلتور برخه دي. په دغو سیمو کښي ډېري لرغونې پښتني لوبي تر سره کېږي. په دغو سیمو کښي د هلکانو سره د انجونو هم لرغونې لوبي لیدل کېږي. موږ په دغو سیمو کښي له ډېرو کسانو څخه د لوبو پوښتنه وکړه او په ډېرو سیمو کښي مي د لرغونو لوبو او اوسني لوبو ډولونه و پلټل چي تفصیل یې ډیر اوږد دى.

لوبي که د ماشومانو وي که د لویانو که په خونه کښي دننه کېږي او که د خوني دباندي کېږي لوبي د هر وګړي خوښي وي ځکه چي د لوبو په وجه انسان د بېلابېلو ناروغیانو څخه ځان ژغورلی شي. لوبي د صحت دپاره دومره ارزښتناکه بلل کېږي چي څوک لوبي کوي هم هغه تر ټولو زیات زغم لري، باربرداره وي او تر ټولو زیات صحت منده وي. هم دغه وجه ده چي له وړو کوچنیانو سره سره لویان هم د لوبو هڅې کوي چي لوبې وکړي. د لوبو ډېر قسمونه دي د لوبو زښته زیات قسمونه دي، ځیني رسمونه هم داسي دي چي لوبي پکښې برخه لري، د ځینو لوبو نومونه به ستاسو په مخکي کښېږدو:

استاپو، الله داد، بدى یا بجلي، بېټي، پټ پټانى، توپ ډنډه، رسى ټاپ، ګټي، باغوانه خره، خربېټه، باغوانه لوبه، خوسى، رسى

**کشول، خره لال، حج قبول،جنت دوزخ، کبډي، زور ازمېښت، د غلو لوبه، باچا وزیر، نېزه وهل، تېره ټکونه، ملا اوړه، خلېځګی/ګوتکي، سېګی، هینډه، تود تپانړی، پټ پټانی، خر په خرګردان، سپین ژیرک، لاډو، غېږ، قطار، شطرنج، نښان ویشتل، اسونه ځغلول، نېزه غورځول، رسۍ کشول، سورګي ویشتل، رومال چور، اګۍ جنګول، پړاکی یا ګلي ډنډه، پر پر مرغۍ والوته، سپ سپ، خلېږي، ټال اچول، کورنګۍ، تاڼي، پټي کول، ډُرهٔ، تاش کول، د ګټیو چکه، په لاس کښي د کاڼي د پټه ولو چکه، پیټو ګرم، صدف، پټه کاڼی، بانډي، غېږ ایستل، پټي کوړی، منګی مات غوړي توئی، خردرګي، انا اوش په لکړي، اکو بکو او داسي نوري. په پورتنیو لوبو کښي داسي لوبي شته چي ډېري لرغوني دي اوس ختم شوې دي او ځیني داسي لوبي هم پکښې دي چي اوس هم په کلیو او بانډو کښې کېږي.**

دسهیلي پښتونخوا د ځینو لوبو صنفي ساختیات:

**د نورو پدرشاهي ټولنو غوندي په پښتني ټولنه کښې هم د ناراینه او ښځینه هر څه په معنوي او علامتي توګه سره** جلا دي. لکه څه ډول چي جامې، پیزار، کارونه ، حقوق او استحقاق (Rights and Entitlements) یې سره بېل دي هم دغهٔ ډول د لوبو ډولونه، قسمونه او فورمونه یې هم سره جلا دي. کله چي موږ د لوبو خبره کوو نو په عمومي توګه چي وګورو نو د سهیلي پښتونخوا په پښتني سیمو کښي د انجونو لوبي ډېري کېږي خو د هلکانو لوبي تر دوی زیاتي دي، ولي چي په ټولنه کښي د نارینه پر اولسي ، کلتوري او ټولنیز ځایونو(Cultural and Social Space) او وسائلو ته رسائي او کنټرول (Access and Control) ذیات دے، ځکه نو موږ وئلے شو چي دلته هم د انجونو یا ښځو د لوبو هغهٔ ډول عکس العمل په نظر نه راځي لکه څه ډول چي د نارینه هغه ده په نظر راځي. بله خبه دا هم ده که چیري موږ د نرواکه پښتني ټولني ساختیاتي څېړنه وکړو نو موږ کتلے شو چي د نارینه واک او اختیار په پیدائشي توګه ذیات ګڼل کیږي او دې عمل ته فطري او منطقي وئیل کیږي. (11)

ښځینه لوبي او د هغه پېژندګلوي:

د لوبو د پلټني په دوران کښې پر ما دا حقیقت منکشف شو چي دسهېلي پښتونخوا په لرغونو لوبو کښې ځېني داسي دي چي یواځي پکښې هلکوان یا نارینه لوبیږي، په دغو لوبو کښې د طاقت، زور، او میدان (منډو) لوبي شاملي دي، د بېلګي په توګه خوسئ، اېنډه، غیچ، خولۍ خولي، کوړي منګی، ړوند چرګ، غېږ، ډبره غورځول، موخه وېشتل، آسونه زغلول، او سرګي ویشتل

هغۀ لوبي دي چي يواځي د نارينه وو لپاره مخصوصي دي، په دې لوبو کښې د زور، ځواک، طاقت او غښتلوالي مظاهره کيږي، او انجونه يا ښځي کله هم د دې لوبو جوګه نه ګڼل کيږي. دا يقينا د ټولنيز رغښت (سوشل سټرکچر) اثر دے چي د د انجونو او هلکوانو ، ښځو او نرانو لوبي بدلوي، چونکه نر به د جنګ ميدان ته ځي، هغۀ که ملي جنګ ؤ، که قبائلي ياد تربګنی، ځکه نو هغۀ د ميدان جنګ سره ورته لوبي ځان ته خوښوي او په هغۀ کښې لاس بری د نارينه توب علامت ګڼي. د بېلګي په توګه غېږ،خوسئ، اينده، غيچ او ډبره غورځول د نارينه د لچ (لاس او مړوند) د زور، د پښو او ورنو د مضبوطوالي لوبي دي، دا په يوه نه يوه ډول د جنګ د يوه منظر اظهار لري، هم دغۀ ډول ځيني وخت هلکوان او لويان په دوو ډلو کښې سره ؤ ويشل شي، دواړو خوا ووته لس لس کاڼي و درول شي، د دواړو ډلو د غړيو سره پر سړي سر درې کاڼي وي، چي هغۀ په د مخالف لوري د ډلي ځرګي يا درول شوي کاڼي ولي او ړنګوي به يې، يو وار يوه ډله خپل وارونه کوي، او د هغۀ وروسته د دويمي ډلي وار وي، کومه ډله چي د مخالف ډلي و لور ته ولاړي کاڼي تر ټولو اول و نړوي، هغۀ بازی ګټلي ده. د دې لوبي د تحليل څخه يوه خبره دا موږ را ايستلئ شو چي د کاڼو د ويشتلو بيخي دقيق پريکټس په دې توګه وشي، هم دغۀ ډول د آس سوارلي، د آسونو منډه، او د موخې يا نښانه ويشتلو لوبه نېغ د جنګ دتياری سره کار لري، د دوکی، سنځاوی، او بوري په ځېنو سيمو کښې اوس هم موخۀ (نښان) د ليندي او غشي په مرسته ويشتل کيږي. د دې سيمي د دود مطابق هر کال په اخترونو او د ژمي او مني په ورځو شپو کښې په زرګونو پښتانه نارينه د موخې (نښان) ويشتلو لپاره سره را يو ځای کيږي . هم دغۀ ډول د توپک په زريعه نښان ويشتل هم په اصل کښې د جديد يا نوي اسلحې د کارولو او د جنګ د تياري کولو ښۀ مثال دی.

د پلټنې په دوران کښې چي کله د جواب راکونکيو څخۀ وپوښتل شول چي آيا کله يوې ښځي هم و دې لوبو ته مخۀ کړې ده، نو په دې حقله د ټولو جواب په نفي کښې وو، البته په قلعه سيف الله او بوري کښې پخوا داسي خال خال يوه ښځه به وه چي توپک به يې پر اوږه ؤ او هغۀ د خپل مېړۀ يا پلار د پور اخېستلو لپاره د ښځېنه صنف څخه د نارينه توب و چوکاټ ته را وتلې وه. خو په عمومي توګه د دې تصور نشته چي ښځه دي په دغو لوبو کښې ګډون وکړي. لکه څه ډول چي د ښځينه لوبو کونکي هلکوان ياځوانان تورن کيږي، غندل کيږي،او د ښځولک په نامه رټل کيږي، هم دغۀ ډول چي کومي ښځي يا انجوني دنارينه لوبويادنارينه وو هغه کارونوته چيټولني ور تفويض کړي دي،لاس اچوي نو ټولنه ورته همدغۀ بدورد وائي،داسي ښځي نربډی(Man-like) وئيل کيږي.

و بل پلو ته کومي لوبي چي انجونه یا ښځې کوي، لکه بنګړي جنګول، اسټاپو، تر رسۍ اوښتل،ګیټي کول،باړي یا تاڼي کول په دې کښې ذیاتره د زور،طاقت، منډي اود جسماني اعضاوو د آزادانه حرکت حدونه متعین دي،دبیلګي په توګه انجونه اسټاپوکوي، چي و خوسي ته ورته یوه لوبه ده، په خوسي کښې لوبغاړی په یوه پښه نیسي اوبل لاس دمخالفي ډلي د لوبغاړي دراپرځولو لپاره اوطاقت آزمائي لپاره کاروي. په دغه لوبه کښې دجامو پرېکیدلو،تنۍشلیدلوډېرامکانات وي، ځکه ذیاتره لوبغاړي خپل کمیسونه باسي او په لغړه ملادغۀ لوبي تهور دانګي. د لوبي چي کوم کس تر ټولو تیزوي هغۀ ته غوا یعني ښځینه کردار ور کول کیږي، غوا به د مخالفي ډلي وخواته جوړه کړلشوې دخاوري یوکوشنۍ ځلی یا کوړه په پښه وهي، که چیري غوا په دې کار وتوانیږي چیدغه کوړۀ په پښه ماته کړي یاخرابه کړي نو دادهغۀ ډلي یو پوائنټ جوړ شي،چونکه په دې لوبه کښې دغواکردار مرکزیوي، د غوا د پرځېدو یا پښه له لاسه پرېښوولو په نتیجه کښې هغۀ ډله لوبه بائلي، ځکه نود غوا دژغورني یاتحفظ لپاره دډلي دوه یادرې تکړه جنګیالي لوبغاړي چاپېره کیږي اود غوا پر سر جنګیږي. په دې لوبه کښې ځېني وخت لاس اوپښه هم مات شي، اوذیاترهلوبغاړي په کښې ټپي شي. د دې لوبي دصنفي تحلیل که وشي، نوپهدېکښې مورډ پښتني ټولني دنرواکۍ دټولنیز نظام (Social Organization) بیخي ښکاره روئیې لیدلئ او محسوسولئ شو.

و بل پلوته دښځو یاده شوې لوبه "اسټاپو" ډله ایز یاګروهي نیچرنه لري،هره لوبغاړې ځانته لوبیږي. په اسټاپو کښې انجونه پر هواره اوپاکه مځکه د سکور، چاک یاکاڼي په مرسته کتار جوړ کړي، دغۀ کتار چي دوولس یالس خاني پکښې وي، یو پیت یاچیت کاڼې چي اسټاپوورته وائي غورځول کیږي، د کومي لوبغاړي چي وار وي هغۀ اسټاپو دکتار په لومړي خانه کښېغورځوي،که چیري هغۀ په دې خانه کښې پرېوځي نو لوبغاړې په یوه پښه دکتار تر ټولو لسو یادوولسو خانواوړي،اوبیاد هغۀ بل لوري چي په کوم کتارکښې چي اسټاپو پروت هم هغۀ سي په یوه پښه راځي اودغۀ ګټی یا اسټاپوپه پښه پوري وهي. که چیري هغۀ په یوه ،دوه یاډېرروار د اسټاپو په پښه وهلوکښې بریالۍ شي او اسټاپوتر کتاره ووځي نوبیا هم هغۀ لوبغاړي ددویمي خاني لپاره اسټاپوغورځوي. په دې دوران کښې که چیري اسټاپو له هغۀ خاني چپ شي چي لوبغاړې ورته اسټاپو غورځول غواړي نودا د هغې ناکامي وګڼل شي او دا راز هغه بله لوبغاړې خپل وار پېل کړي. د دې لوبې تعلیمي، نفسیاتي،اوصنفي تحلیل که وشي نو لومړی خبره داده چي دا لوبه ډله ایزه نه ده، بلکه هر لوبغاړئ پر خپل سر د اسټاپو ګټلو هڅۀ کوي. په دې لوبه کښې لوبغاړي نه لاس او ګریوان کیږي، بلکه دخپل هنر او جسماني توازن ،داسټاپو دغورځلو د چل یا نښان ویشتلو مهارت، اوهم داډول په ځینو مواریدوکښي د یوه کوشني ټوپ (Jump) وهلو امکانات پکښي دي.

دخوسي او استاپو دغه پرتله موږ ته دانجونو،اوهلکوانو په حلقه د ټولنيز تربيت بيخي ښۀ انعکاس(Reflection) را څرګندوي ،چونکه په يوه نرواکه ټولنه کښې دنارينه توب اقداري نظام مينځ ته راځي، نارينه دټولنې اوخاندان مشر وي، نارينه توب معنا په معاشي، ټولنيز، عسکري، او سياسي ميدان کښې خپل ځان ثابتول او نتيجه ورکول وي،ځکه دټولني او خاندان ټوله توان پر دې کارول کيږي چې ميړونه ډېر شي، دمېړونو د ډېرښت دغۀ ارمان موږ ته پښتو شعر د بيخي لرغوني دورې دبيټ نيکه په شعرونوکښې هم مخي ته راځي(Hotak, 22; 1998).که چيري موږ داوسنۍذماني دفوکلوري شاعرى اوقيصه ايزادب څېړنه وکړو نوهم خبره دلته راځي چي دشعر او قيصې پر فکر او نظرياتو د پدرانه حاکميت او مردانګی د کلچر اثرات جوت ښکاري. که چيري موږ و بل پلو ته د ښځې و ټولنيز حيثيت ته ځير شو نو په دې حقيقت به پوه شو چي د انجلۍ د زوکړي سره د هغې د ټولنيز حيثيت اعلان وشي. چي هغۀ به څه کوي او څه نۀ، څه حقوق او زمې واريانې لري اوڅه نه لري. لکه څه دول په کار کښې د يوې انجلۍاو هلک روزنه په بېله توګه کيږي، دهلک خښم،کاوړ،وهل، ټکول، او د ښځو څخه خپل ځان بېل او برتر ګڼل يوه عمومي ټولنيزه رويه ده، هم دغۀ ډول انجونوته اپوټۀ يعني برعکس ټولنيزي روئيې ور زده کيږي، چي پکښې پټۀ خوله پاتي کيدل،تعبيداري،صبر، شرم، حيا ،دنارينه خذمت کول او دخاص عمر وروسته پر کور پاتي کيدل شامل دي.

که چيري موږ د پښتنو او نورو څنګلورو قومونو د لرغونو يا دوديزو لوبو څېړنه وکړو نو په دې نتيجه به ورسيږو چي دنارينه په نسبت به د ښځينه ذياتره لوبي به داسي وي چي په کور يا خونه کښې دننه تر سره کيږي. ګيټي، استاپو، پټ پټونی، تود تپانی، کوټي منګی، پټو ګرم ، باړي، بنګړي جنګول، تاکۍ، بيټي، دا ټولي داسي لوبي دي چي په کلا يا کور کښې يا خونه کښې تر سره کيږي. البته په دې يادو لوبو کښې ځيني وخت د کم عمر کورني هلکوان هم د انجونو سره ګډون کوي، خو د هلکوانو ځېني داسي لوبي دي چي په کور او خونه کښې کيږي خو د انجونو ګډون پکښې په ټولنيزه سويه کږل شوے دے. د بېلګي په توګه کاکي، ګلي ډنډه، يا ټيلو دا يوه داسي لوبه ده لږ وډېره و کرکټ يا د بېس بال ته نزدې ده، په يوه لوى سوباړي يا لوړ باندي کوشنی لرګی چي کاکي، ټيلو يا ټيله ورته وئيل کيږي وهل کيږي. د دې لوبي څخه انجونو پخپله ځان ګوښۀ کوي، او په ټولنه کښې دا خبره عام ده چي دا د انجونو کار ځکه نه دے چي په دې کښې له ليري ځايه څخۀ کاکي يا ټېلو د لوبي مرکزي ځاى يعني مايې ته را غورځول کيږي، او د لوړ په مرسته کاکي يا کوشنی لرګی په زوره وهل کيږي د کوم لپاره چي د نارينه طاقت پکار وي. که چيري موږ طاقت او کمزوري د انجونو يا ښځو د ګډون بنياد و بلو نو بيا داسي ځيني نوري لوبي هم شته چي

پکښې هیڅ ډول داسي زور، طاقت او د لچ یا لاس مضبوطوالی نه غواړي خو د انجونو لپاره دغهٔ لوبه کړل شوې ده. بدی یا بجلي چي په عمومي توګه تر استاپو، او باړي لړ توان او طاقت غواړي، او تر لسو ډېري لوبي د بجلو په مرسته کیږي، د سهیلي پښتونخوا په ذیاترو سیمو کښې د انجونو په دې لوبه کښې هیڅ ګډون نه دے تر سترګو شوی. د بجلو یا بډیو په دې لوبو کښې د ناستي لوبي هم شته او د ولاړي او تګ لوبي هم ، خو دا په بشپړهٔ توګه د لوبو یوه داسي لړی ده چي یواځي یې نارینه تر سره کوي. کومي انجونه چي په دې لوبو راګډي شي، هغوی له هر لوري رټل کیږي، تر دې چي دغهٔ عمل پریږدي، کله چي د دې علت و پوښتل شو چي انجونو ته څله په داسي لوبو کښې د ګډون موقع نه ورکول کیده، نو ځواب بس هم دغهٔ مخ ته راشي چي دغهٔ خو د نرانو لوبي دي، او نران باید د ښځو لوبي ونه کړي او ښځي د نرانو لوبي ونه کړي. د بیلګي په توګه کورکی، بنګړي جنګول، لاډو، ګېټي، منجاری، او ځیني داسي نوري لوبي شته چي یواځي و ښځو ته منسوب دي، او هم دغه ته ښځینه لوبي وائي. په زړهٔ پوري خبره دا ده چي دا ټولي هغهٔ لوبي دي چي د جسماني اظهار ، حرکت، طاقت، زور، زهني تربیت او د فیصلي کولو د استطاعت کاری هیڅ جوهر نه لري. د بېلګي په توګه کتار کوم چي و شطرنج (Chess) ته بیخي نزدې کړهٔ وړهٔ لري نران یې په بې دریغهٔ ډول په هره سیمه کښې کوي، د دې بیلابیل ډولونه دي، او د کتار کولو لپاره یواځي پینځه فټه مځکه پکار وي، او دا په ذیاترو مواردو کښې په کور کښې دننه هم کیږي، خو ښځینه د دې لوبي څخه بې برخي دي.

ځیني داسي لوبي هم البته شته چي په کوشنیوالي یې هلکوان او انجونه ګډې سره کوي، خو دا د اوو یا اتو کلونو په عمر کښې امکان لري، څومره چي د انجلی عمر د پېغلتوب (Adolescence) و لورته پل اخلي هغومره هغهٔ د اولسي ځایونه په کور کښې د دننه د لوبو او د آزادانه حرکت و عمل څخه ګوښه کیږي، یو وخت داسي راشي چي د انجلی همځولی هلک د ټولني په کلتوري، ټولنیز، سیاسي، تعلیمي او معاشي عمل کښې ښه په جګه غاړهٔ خپل ګډون کوي او انجونه د منظر عام څخهٔ ورکي شي.

پایله:

د لرغونو لوبو د ساختیاتي څېړنې څخهٔ یوه خبره دا روښانه کیږي چي په روایتي پښتني ټولنه کښې چیري چي د نرواکی زور چلیږي، هلته د ښځینو لپاره هیڅ داسي ګنجائش نشته چي هغوی دي د خپل اظهار، زدهکړي، طبعي او ذهني صحت د ودې لپاره پخوانیو لوبو څخه استفاده وکړے شي. کومي لوبې چي یواځي نارینه کوي په هغو کښې زیاتره د زور، طاقت، حملې، او توبرې عمل دخل وي، د دې لوبو ژبه ډېره ذیاته پدرسري یا د نارینه توب تر اغېزي لاندي ده چي پکښې د ښځو کمتري او تر نر د هغې کموالی له ورایه

راځرګندیږي. البته ځیني داسي لوبي هم شته چي په کور او خونه کښې د ننه کیږي، او هیڅ ډول داسي زور، طاقت، منصوبه بندي او منډه ترړه نه غواړي خو په بشپړه توګه د نارینه لپاره مخصوصه شوي دي، او کله چي ښځي د دې لوبي و لورته مخه کوي نو روایت، رسم ورواج او کرکي کړني یې مخي ته راشي. د دې بحث څخه یوه یوه خبره دا په ثبوت رسي چي په نرواکه پښتني ټولنه کښې چي چیري د نارینه او ښځینه کارونه، کردارونه، او ټولنیز حیثیت سره بېل دي، هلته د لوبو په میدان کښې هم د ټولنې دغه عکس العمل زموږ تر سترګو کیږي. اوس مهاله تنقیدي نظریات او په خصوصیت سره د فیمینسټ تهیوریانو له رویه د نر او ښځي دغه ټولنیز بیلتون هیڅ قدرتي جواز او منطق نه لري، بلکه دا هر څه د ټولنیز او کلتوري عمل په نتیجه کښې په جود کښې راغلي دي.

## حوالي:

(1 Merriam-Webster, An encyclopedia Britannica Company Online. http://www.merriam-webster.com/dictionary/culture Last Accessed Nov 20th ,2012
(2 Douglas Harper, (2001). Online Etymology Dictionary

3) Kluckhohn,C., & Kelly, W.H. (1945). The concept of culture. In R. Linton (Ed.). The Science of Man in the World Culture. New York. (pp. 78-105).

4)جالبی، ڈاکٹر جمیل (۲۰۱۱) ، پاکستانی کلچر، فکشن ہاوس لاہور، ص ۴۲

5) https://www.merriam-webster.com/dictionary/folklore Last Access , July 2,2021

6) Folklore, URL: https://www.etymonline.com/word/folklore Last Access , Juluy, 3,2021

7) Olaf , Caroe (Sir)(2009). *The Pathans*, Oxford University Press Karachi Pakistan 17th impression, p. 339

8) Thomson, M. (2002). Boys will be boys: Addressing the social construction of gender. *Masculinities matter*, 166-185.

9) Lombardo, E., & Meier, P. (2008). Framing gender equality in the European Union political discourse. *Social Politics*, *15*(1), 101-129.

10) خاکي، شاه وزير خان، په سوات کښې د ماشومانو زړي لوبې، شعب سنز پبلشرز اینډ بک سيلرز، جي ټي روډ منګوره، سوات، ۲۰۱۷، مخ۸

11) Sanauddin, N. (2015). *Proverbs and patriarchy: analysis of linguistic sexism and gender relations among the Pashtuns of Pakistan* (Doctoral dissertation, University of Glasgow).